


یو هاتي ډېر خفه وُ- هغهٔ سره چا ملګرتیا نهٔ کوله- د ځنګل ټول ځناور به د هغهٔ په لیدو اخوا دېخوا سول- هغهٔ په دې نهٔ پوهېدلو چي د ځنګل ټول ځناور ولي د دهٔ څخه داسې ډَډه کوي؟ هغهٔ څهٔ وکړي او چاته ووایي-



هغۀ ووئیل، راسه چي د اېږ نه پوښتنه وکړم“
اېږه وروره!
د ځنګل یمه هاتي  څوک مي نۀ کوي دوستي
اېږ سترګي پورته کړې او په خپل دروند ږغ
ئي ووئیل!
”ځه ورځه، ځه ورځه   ته ترلښتي ځه ورځه
سیند لره هم ته ورځه سمندر لره هم  تۀ ورځه“
هاتي خفه سو او د هغه ځای څخه روان سو-



هاتي بيزو ته ووئيل: بيزو خوري!
د ځنګل يمه هاتي  څوک مي نۀ کوي دوستي
بيزو سر راتاؤ کړو او وئي وئيل
"ځه ورځه، ځه ورځه    ته ترلښتي ځه ورځه
سيند لره هم ته ورځه سمندر لره هم  تۀ ورځه"
هاتي وربوز وران کړ او د هغه ځای څخه هم
روان سو-



هاتي له ګیدړه په مخه ورغله- هغهٔ په دې خیال ورنزدی سو چي خپل خفګان به ورته بیان کړي- ګیدړې د لاس په اشاره هاتي منع کړو او ورته ئې ووئیل!


”څه ورڅه، څه ورڅه ته ترلښتي څه ورڅه
سیند لره هم ته ورڅه سمندر لره هم تهٔ ورڅه“



د هاتي خفګان نور هم سېوا سو چي چاته خپل غم ووائي؟ په دې کي سويه راغله هاتي ږغ ورکړو ای سويې خورې!

د ځنګل يمه هاتي څوک مي نۀ کوي دوستي سويه رانزدې سوه، مخ ځيني ئي واړوو او په منډه کي ئي ووئيل!


"ځه ورځه، ځه ورځه ته ترلښتي ځه ورځه سيند لره هم ته ورځه سمندر لره هم تۀ ورځه"



هاتي ډېر خفه ولاړو- هغۀ يوه زرافه وليده چې
د ونې څخه يې پاڼې خوړلې- هاتي ورته ووئيل،
ګوره زرافې خوري!
د ځنګل يمه هاتي  څوک مي نۀ کوي دوستي
زرافې په خفګان غړې، لاندې کړه او ورته وئې
وئيل!
"څه ورځه، څه ورځه     ته ترلښتي څه ورځه
سيند لره هم ته ورځه سمندر لره هم  تۀ ورځه"




د هاتي زړۀ مات سو-پر مخ يو زېبرا راروانه وه- هاتي چي وليده نو ډېر خوشحاله سو- هغۀ ته ئي ووئيل زۀ ډېر خفه يم- زېبرا ورته د لښتي طرف ته اشاره وکړه او ورته وئي وئيل:
”ځه ورځه، ځه ورځه ته ترلښتي ځه ورځه سيند لره هم ته ورځه سمندر لره هم تۀ ورځه“



هاتي چي د ځنګل مينځ ته ورسېدو نو د يوې
ونې نه بَم ږغ ور وکړو! "څۀ چل دی هاتي
وروره! ولې خفه ئي؟" هاتي ووئيل!
د ځنګل يمه هاتي   څوک مي نۀ کوي دوستي
بَم سمدستي ووئيل،
"ځه ورځه، ځه ورځه   ته ترلښتي ځه ورځه
سيند لره هم ته ورځه سمندر لره هم تۀ ورځه"
د هاتي صبر تمام سو- او په چغو چغو په ژړا
سو-




یوه ځنګلي مېښه راغله- د وني لاندي کښېناسته او د هاتي نه ئې پوښتنه وکړهٔ- "وئ ځار، هاتي وروره! دا ژاړې ولي؟" هاتي ووئيل، "نو ولي به نه ژاړم، چي چاله هم ورځم نو بس دا راته وايي، خو زهٔ ولې لښتي له لاړ سم؟ زهٔ ولې سيند له لاړم سم؟ زهٔ ولې سمندر له لاړ سم؟" چي هاتي غلی سو نو مېښه ورنږدې سوه او دلاسه ئې ورکړه-



مېښې د هاتي په خړتم لاس کېښودهٔ او وئي وئيل، ګوره وروره! تهٔ لامبې نه، خيرن خيچن ئې، سخا بوي درنه ځي- ځکه ټول ځناور ستانه کرکه کوي- هغوئ تاته سخا هاتي وايې- په دې وجه درسره دوستي نهٔ کوي-

”څه ورځه، څه ورځه ته ترلښتي څه ورځه
سيند لره هم ته ورځه سمندر لره هم تهٔ ورځه“



اوس هاتي پوهه سو، چي د ځنګل ټولو ځناورو د دۀ نه ولې ډډه کوله- د هغۀ سترګې و پړقېدې او د سیند طرف ته ئې منډه کړه- ور غوټه سو او په لامبلو ئې د ځان نه ټول خیري لرې کړې- نورو هاتیانو پرې هم اوبۀ واچولې او داسې یې پاک کړۀ چي ځرمن ئې وپړقېده-اوس د ځنګل ټول ځناور د دۀ دوستان شول-

# بګ بکس

## د دویم جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجیکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځهٔ کلن پروګرام دے چې، د بین الاقوامي ترقۍ د پاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- د دې پروګرام مقصد په پاکستان کې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره د ذده کوونکیو د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دي- په دې لړکښې پاکستان ریډنګ پراجیکټ د زده کوونکیو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ دپاره مختلف تکنیکي، تعلیمي او د ښودنې مواد تیار کړي دي-

بګ بُکس ددې تعلیمي موادو یو مهمه برخه ده- د 24 هفتو د پاره 12 بګ بُکس لیکلې شوي دي- یو بګ بُک به په دوؤ هفتو کې لوستلې شي- استاذان به دا بګ بُکس د "اوچت اواز" په طریقه لولي- د هر بګ بُک په وروستنې مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمۍ ورکړي شوي دي- استاذان دې په هفته کې دوه ورځې دا سرګرمۍ ضرور وکړي- د بګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خیال وساتئ چې ماشومانو ته ټوله قیصه واورولې شي- د دې کتابونو لیکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي- مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصویري خاکې پېش کول وغېره-

د دې محنت په نتیجه کې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي ، دغږنو علم، د ټکیو ذخیره، د لوستلو رواني، او د تفهیم صلاحیتونو ته وده ورکړي شي- دا کتابونه به په خصوصي توګه د لائبرېریو برخه وي چې راتلونکي ماشومان ترې هم ګټې تر لاسه کړي او د پښتو په لوستلو کې به د دلچسپۍ دا سلسله هم روانه وي-
مونږ هیله لرو چې د پي اَر پي دا محنت د بلوچستان په پرائمري سکولونو کې د لوستلو معیار ښهٔ کولو کې معاون ثابت شي-

پاکستان ریډنګ پراجیکټ کې لاندیني تعلیمي او د ښودنې مواد شامل دي-

- ټي اَئي جي ماډیولز
- سبقي منصوبې
- ویډیوز
- ورک بُک
- بِګ بُکس
- فلېش کارډونه
- د ارکانو چارټونه

د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجیکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# د استاذانو د پاره لارښوونې

پاملرنه: استاذان دې هره ورځ ماشومانو ته ټوله قیصه اوروي او په لاندینو لارښوونو دې عمل کوي۔

## لومړۍ ورځ (خبري اترې: پېش ګوئې او زاړه معلومات)

### تر لوستلو مخکې

» ماشومانو ته د قیصې د سرپاڼې ښودلو په وخت پوښتنه وکړئ، د قیصې د عنوان نه تاسو ته د دې قیصې باره کې څۀ معلومات تر لاسه کیږي۔

» ستاسو په خیال دا قیصه د څۀ په باره کې ده؟

» د قیصې ورومبی مخ پرانیځئ او پوښتنه وکړئ چې موږ به دا قیصه د کوم ځای نه شروع کوؤ؟

### د لوست په مینځ کې

» د دویم مخ عکس ښودلو په وخت پوښتنه وکړئ، هاتي ولې خفه دی؟

» په اووم مخ پوښتنه وکړئ، ستاسو په خیال به زرافه هاتي ته څۀ خبره کوي؟

### تر لوست وروسته

د خپلې خوښې د دوؤ سوالونو پوښتنه وکړئ

» اووم ځ وښايئ او پوښتنه وکړئ، ددې مخ ورومبی او اخري ټکی څۀ دی؟

» په دې قیصه کې څۀ ستونزه مخې ته سوې ده؟

## دویمه ورځ (د ارکانو مشق)

### تر لوست وروسته

کېدې سی چې ستاسو په ټولګي کې ځینې داسې لوستونکي هم وي چې مورنۍ ژبه یې پښتو نه وي، دا لاندیني سوالونه یوآځې د دغو لوستونکو څخه وپوښتئ۔

» په سر پاڼه عنوان "غمجن هاتي" ته اشاره وکړئ او پوښتنه وکړئ، تاسو خپله ژبه کې دې ته څۀ وایئ ؟

» په دویم مخ د "اېږ" عکس وښایئ او پوښتنه وکړئ، ستاسو په ژبه کې دې ته څۀ وائي؟

» په دریيم مخ جمله "هاتي شادو ته ووئیل: بیزو خورې! د ځنګل یمه هاتي، ځوک راسره نۀ کوي دوستي" ولولئ او ماشومانو ته په خپله ژبه کې دا جمله د لوستلو ووایاست؟

» په یوولسم مخ دمه واخلئ او جمله د تاثراتو او د لب و لهجې ښکته پورته والي سره ولولئ "د هاتي په خړتم لاس کېښودو او وئې وئیل، ګوره هاتي تۀ لامبې نه، خیرن خیچن یې، بد بوي درنه ځي" ماشومانو ته خپله ژبه کې دا جمله د لوستلو ووایاست۔

» ماشومانو ته ټکی ووایاست او د ورومبي ږغ پوښتنه ترې وکړئ۔ لکه: دانه، دا

ټکي: لښتی، هاتي، خړتم، دوستي، خیرن، سمندر، لومبړه

## دریيمه ورځ (ذخیره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

### تر لوست وروسته

» په ورومبي مخ جمله "د ځنګل ټول ځناور به د هغۀ په لیدو اخوا دې خوا سول" استعمال کړئ او یو مثال ورکړئ لکه: دهاتي دوستان به د هغۀ په لیدو اخوا دې خوا سول۔ د جملو جوړولو په وخت د ماشومانو مرسته وکړئ۔

» په اتم مخ جمله "د هاتي زړۀ مات سو" مطلب دی، "خفه کېدل" او د ماشومانو د پوهې د پاره مثال ورکړئ لکه:په امتحان کي په فېل کېدو د ماهین زړۀ مات سو۔ په جملو جوړولو کي د ماشومانو مرسته وکړئ۔

» په دولسم مخ دا جمله "اوس هاتي پوهه سو، چې د ځنګل ټولو ځناورو ددۀ نه ولې ډډه کوله" ماشومانو نه د دې د مطلب پوښتنه وکړئ یا وضاحت وکړئ چې هاتي نه به ټولو ځناورو ولې ډډه کوله؟

## ځلورمه ورځ (خبري اترې: د ذاتي ژوند په هکله)

### تر لوست وروسته

» هاتي ولې غمجن ؤ؟

» هاتي کومو کومو ځناورو سره لیدل کتل وکړل؟

» هاتي به اوس چا سره لیدو له ځي؟

» مېښې هاتي ته رښتیا خبره وکړه کۀ نه؟ ځنګه؟

» د قیصې کومه برخه ستاسو ډېره خوښه سوه؟ولې

» کۀ چرې ستاسو یو دوست د هاتي په شان ګنده وي نو تاسو به ورله څۀ مشوره ورکوئ؟

» تاسو سره نژدې چرته وله/نهر یا لښتی شته؟ په دې کي صفا اوبۀ دي کۀ سخا؟

www-pakreading-org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID)- It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government- The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government-

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلکو په مرسته د امریکې بین الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن سوې ده- دا مواد یو ایس اېډ- پاکستان رېډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان رېډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو ایس اېډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي-